## Importance of economics

داقتصاد دعلم اهمیت دانسان په ژوندکی: کولی شوچی داقتصاد دعلم اهمیت په لاندنیو دریومرحلوکی په لنډ ډول اشاره وکړو.

### 1: Person level

اوله مرحله داقتصاد علم دانسان په ژوندکی خاص اهمیت لری پدی معنی چی په روزمره ژوندکی زیات داسی کارونوسره مخامخ کیږوچی داقتصادعلم پوری مستقیما اړیکه لری دمثال په توګه په راکړه ورکړه کی اوویلی شوچی انسان همیشه کوشش کوی چی دخپلوکموامکاناتوڅخه اعظمی استفاده وکړی لکه په ماښام کی درس ویل مونږلپاره مفید تماميږی په مقابل ددی کی چی سهار درس ووایو،ماښام کی زمونږ لپاره **Opportunity cost** وی په مقابل دهغه کسانوچی سهارکی درس وایی ځکه چی وخت **Cost** دی

### Government level :2

په لنډ ډول ویلی شوچی داقتصادعلم ددولت لپاره خاص اهمیت لری لکه ددولت په تشکیلاتوکی وزارت اقتصاد، وزارت مالیه، مرکزی بانک ورته ځای ورکړی همدارنګه هروزارت درياست مالیی په نامه باندی رياستونه لری اوداسی نورچی داټول داقتصادعلم پوری اړیکه لری.

### World level :3

ویلی شوچی داقتصادعلم ددنیا په سطحه باندی هم ضروری اولازمی دی دمثال په توګه بانک جهانی موجودیت سازمان بین المللی تجارت اومالی بازارونه داټول هغه اداری دی چی داقتصادعلم پوری مستقیما اړیکي لری چی په عین وخت کی ددی علم په اهمیت دلالت کوی لکه (**Business news**) اخبارونه.

Ketabton.com

## Definition of Economic

Economic is a dynamic subject اقتصاد تغیرکیدونکی دی
Economic resources are limited اقتصادی منابع محدود دی
Wants and needs are unlimited خواهشات اوتقاضا نامحدوده دی
Relative scarcity دامکاناتوکموالی

دا ټول جنرل خبری وی کوم چی زمونږ په کورس کی نشته اصلی درس لاندی شروع کیږی.

## داقتصاد تعریف

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱: داقتصاد علم داجتماعی علوموڅخه یوه برخه ده او اجتماعی علوم دانسان سلوک مطالعه کوی.

۲: علم اقتصاد اقتصادی مشکل ترمطالعی لاندی نیسی.

۳: همدارنګه د اقتصاد علم موږ اوتاسوته دا په ګوته کوی چی داقتصادی مشکل سره څنګه چلند اوتعامل وکړوپدی معنی چی څرنګه دکمومنابعو او امکاناتوڅخه اعظمی استفاده وکړو.

## *Difference between micro and macro*




**Micro economics**
Individual

**Macro economics**
aggregate

داقتصاد علم په دوو عمدوو برخوباندی تقسیمیږی چی یو یی کوچنی اقتصاد اوبل یی لوی اقتصاد یعنی جزی اقتصاد اوقلی اقتصاد.

## *Micro economic*

جزی اقتصاد: داقتصاد دعلم یوه برخه ده چی اقتصادی مشکل پر انفرادی ډول مطالعه کوی لکه دیوکورنئ مشکل په انفرادی ډول مطالعه کول،په یوازی توګه اتصالات مطالعه کول، اوهمدارنګه دیو معین، مشخص تولید مطالعه کول دقمیت له نظره او دعرضی له نظره لکه څرنګه چی په تیرسیمیسترکی لوستل شوی.

## *Macro-economic*

قلی اقتصاد: داقتصاد دعلم یوه برخه ده چی اقتصادی مشکل په عمومی توګه ترمطالعی لاندی نیسی پدی معنی چی ددولت په سطحه باندی اقتصادی حالت مطالعه کول دمثال په توګه ملی عاید، بی کاری، ګرانی اوهمدارنګه صادرات او واردات مطالعه کول اوداسی نور.

## *Scope of Macro economic*

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمایکرو ساحه یا وسعت: داقتصادی وسعت یا ساحی ځخه مراد دادی چی پدی مضمون کی کوم موضوعات یا مسائل تربحث لاندی نیول کیږی او یا هم داچی په راتلونکی کی ساحه دعمل څه شی دی په لاندی ډول ورته اشاره کوو.

### Theory of national income :1

دملی عاید نظریه: دهغه نظریی ځخه عبارت دی چی ددی پوسیله مونږ مطالعه کوو چی ملی عاید څه شی دی کوم ډولونه لری اوهمدارنګه کوم عوامل دی چی دملی عاید په زیاتوالی اوکموالی سبب ګرځی.

### Theory of employment :2

دبی روزګارئ نظریه: همدارنګه ددی علم پوسیله مونږمطالعه کوو چی بی روزګاری څه شی دی دکوموعواملو پواسطه رامنځته کیږی اودحل لار یی څه ده.

### Theory of money :3

دپیسونظریه: همدارنګه دپیسونظریه پدی معنی چه ددی پواسطه مونږ پیژنوچی پیسه څه شی دی څو ډولونه لری، دپیسوارزښت څنګه دی تربحث لاندی نیسو.

### 4: Theory of general price level

دعمومی قیمتونونظریه: عبارت دهغه نظریی ځخه دی چی په کوم کی مونږدعاموقیمتونوپه باره کی معلومات ترلاسه کوو پدی معنی چی دقیمتونولوړوالی یا کموالی په اقتصاد باندی څه اغیزه لری تربحث لاندی نیسو.

### Theory of economics growth :5

داقتصادی وسعت نظریه: دا نظریه داقتصادی وسعت یا ساحی هغه برخه ده په کوم کی مونږ دملک دننه اقتصادی پرمختګ ترمطالعی لاندی نیسو.

### Theory of trade :6

دتجارت نظریه: دا نظریه مونږته دا راپه ګوته کوی چی تجارت څه شی دی کوم ډولونه لری دیوملک صادرات او واردات په اقتصاد باندی څه اغیزه لری تربحث لاندی نیسو.

## Importance of macro-economic

دقلی اقتصاد اهمیت په لاندی ډول ورته اشاره کوو:

### To judge the performance of economy :1

قلی اقتصاد دیوملک په اقتصادی حالت باندی فیصله کوونکی دی پدی معنی چی دیوملک اقتصاد مطالعه کوی چی په کوم طرف باندی روان دی دپرمختګ په لور یا سرچپه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***2: The objective of government in any country to raise the material well-being of the country***

دقلی اقتصاد بل اهمیت دادی چی ددی په ذریعه دولتونه دخلکودمالی حالت دښه کولوکوشش کوی پدی معنی چی ترڅو دیوملک اقتصادی حالت ښه کړی اودخپلو امکاناتوڅخه اعظمی استفاده وکړی.

***3: Useful to the government for formulating policies, such as monetary policy, fiscal policy and also income policy***

همدارنګه ویلی شوچی دقلی اقتصاد بل اهمیت دادی چی ددی په مرسته هم دولت کولی شی چی مختلفی پالیسیانی جوړی کړی دمثال په توګه دپیسوپالیسی، مالی پالیسی اوهمدارنګه دعاید پالیسی.

***4: The study of macro- economic theory is useful not only for individual but also for government***

په اخره کی ویلی شوچی دقلی اقتصاد مطالعه کول یوشخص ته په انفرادی شکل اهمیت نلری بلکی دولت ته په خصوصی توګه ګټورتمامیږی.

## ***National income*** ملی عاید

National income is the monetary value of final goods produced during the given period (one year)

ملی عاید دنهایی شیانواوخدماتوهغه مجموعی پولی ارزښت ته ویل کیږی کوم چی دملک په دننه کی دیوکال په جریان کی تولید شوی اوسی.په پورتنی تعریف کی باید دری مهمی نقطی په نظرکی ونیسو.

### ***1: Final goods***

دهغه شیانوڅخه عبارت دی چی نور دتولید عملیه پری صورت نشی نیولی او استعمال ته اماده شوی وی دمثال په توګه غنم په **100** روپیو واخلو اوپه بازارکی یی په **120** روپیو خرڅ کړو او هغه یی په **150** خرڅ کړی، بیا وړه شی په **250** روپیو ډوډی تمام شی مونږ دغه اخرنئ نهایی دتولید ارزښت په نظرکی نیسو.

### ***Monetary value :2***

څرنګه چی په یوملک کی مختلف اجناس اوخدمات وجود لری نوپدی اساس دهغوی جمع کول ناممکن دی پدی اساس باید دټولواجناسو اوخدماتو اندازه په پولی ارزښت سره وښایو.

### ***Time (duration of one year) :3***

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرنګه چې عاید په معلومه زمانه کې دکارپه مقابل کې حاصل شوی نوهمدارنګه باید ملی عاید په یومعین وخت سره وښودل شی.

## Measuring of National income

### The product method :1

دتولید په طریقه ملی عاید لاسته راوړل: ددی طریقی په اساس دنهایی اجناسو اوخدماتوقیمتونه سره جمع کوو اوملی عاید تری لاسته راځی.دمثال په توګه،

- Agriculture 120
- Manufacture 80
- Trade 50
- Transportation 40
- Electricity 30
- Services 60

دا ټول چې جمع کړو ملی عاید تری 380 لاسته راځی.

### The income method :2

.The sum total of the incomes of all the persons of a country during the year

پدی میتود کی ملی عاید عبارت دی له ټولو تولیدی عواملو له لخوا ترلاسه شوی تولید ځځه.

**Note: The main factors of production**

5

- Land = Rent
- Labor = Wages
- Capital= Interest
- Organizer= Profit

### 3: The expenditure method

دمصارفوپه طریقه: داهغه طریقه ده په کوم کی چې دملک دننه دټولوخلکومصرف اوهمدارنګه ددولت مصرف، دتولیدکوونکومصارف اوخارجی سکتورمصارف اخیستل کیږی اوملی عاید وربانډی اندازه کیږی.

## Four sector economy

- Household sector (Consumption sector) = C
- Business sector (Investment sector) = I
- Government sector = G
- Foreign sector (External sector) = (X-M) Net export (NX) X-M صادرات او واردات

**Formula** Y=C+I+G+(X-M)

Y= 250+50+90+50-40 Y=400

د پورتنی میتود په اساس باندی داقتصادی سکتورونو تشریح په لاندی ډول ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱: **کورنی سکتور** عبارت دهغه سکتورڅخه دی چی په بازارکی داجناسواوخدماتو تقاضا منځته راوړی اوپه مقابل کی دتولید دعواملوعرضه کوی.

۲: **کاروباری سکتور**: عبارت دهغه سکتورڅخه دی چی بازارته تولیدات او اجناس عرضه کوی اوهمدارنګه دتولید دعواملوتقاضا کوی.

۳: **دولتی سکتور**: عبارت ددولت دسکتورڅخه دی چی عموما دتولیداتو او اجناسوتقاضا منځته کوی پدی معنی چی دتولیداتو مصرف کوی دمثال په توګه د روغتون جوړول، مکتب جوړول اود وزارت لپاره تعمیرجوړول اوداسی نور.

۴: **خارجی سکتور**: عبارت دی ددوو عمده عواملوڅخه (یعنی صادرات او واردات خارجی سکتورته ځکه خارجی سکتور وایی چی دصادراتو او وارداتو په وسیله باندی دخارجی دولتونوسره اړیکی پیداکوی پدی معنی چی دداخلی حدودو څخه خارجی حدودوته انتقالیږی.

## *Different types of national income*

### *Gross domestic products (GDP) :1*

GDP shows the monetary value of all final goods and services produced only within geographic boundaries of a country either by nationals of that country or foreigner during one year.

مجموعی داخلی تولیدات:ددی څخه مقصد دشیانواوخدماتوهغه مجموعی پولی ارزښت دی کوم چی دیوملک دننه دیوکال په جریان کی تولیدیږی اوپه لاندی ډول لاسته راځی.

$GDP= P_1 2_{1,} +P_2 2_2 +P_3 2_3 +\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots +P_n Q_{n\ldots}$ ***For example***

| *Wheat* | *wood* | *grapes* | *potatoes* |
|---|---|---|---|
| X 100 | 50 X 500 | 150 X 110 | 100 X 100 200 |
| P4 Q4 | $P_3$ X $2_3$ | $P_2$ $2_2$ | $P_1$ $2_1$ |

10000 16500 25000 20000

GDP= 20000+25000+16500+10000= 71500

### *Gross national product (GNP) :2*

دا دپیسوهغه مجموعه ده کوم چی دملک په داخل کی دشیانواوخدماتوڅخه ترلاسه کیږی اوهمدارنګه هغه خالص خارجی عواید کوم چی دبهرڅخه راځی ددی دواړو مجموعی پولی ارزښت څخه عبارت دی.

***Note:*** Net income factor from abroad (=) income received by Afghanis from abroad (-) income of foreigner.

*.GDP+NET INCOME from abroad*

(c) ketabton.com: The Digital Library

خالص خارجی عاید+ جمع یی مجموعی داخلی تولیدات= مساوی مجموعی ملی عایدات، مثال کچیرته د افغانانوعاید په خارج کی **دیرش ۳۰ بیلن وی** او دخارجیانوعاید په افغانستان کی **شل ۲۰ بیلن وی** او دافغانستان مجموعی داخلی تولیدات **یوسلوڅلویښت۱۴۰بیلن وی**. مجموعی ملی تولیدات به څومره وی؟ دافغانانوعایدپه خارج کی چی کوم دی دهغی څخه دخارجیانوعاید په افغانستان کی چی دی منفی کیږی اوبیا له مجموعی داخلی تولیداتوسره جمع کیږی..

GDP+GNP= Net income 10+140= 150

### *3: Net domestic product*

ددی څخه مقصد دشیانواوخدماتومجموعی پولی ارزښت دی چی دمجموعی تولیداتواصطهلاک تری منفی شی نوپاتی عاید دخالص داخلی تولیداتوڅخه دی.

***Example: NDP=GDP-Depreciation***

### *4: Net national product (NNP)*

NNP=GNP-Depreciation

### *Personal income (PI) :5*

دا دیوکس دهغه عاید څخه عبارت دی کوم چی یوشخص دمختلفومنابعو څخه لاسته راوړی لکه دوظیفی له طریقه، دکاروبارله طریقه او دکرایه له مدرکه اوداسی نور.

### *6: Disposable income (DI)*

دشخص دتصرف وړعاید: دا دعاید هغه برخه ده کله چی دیوشخص دعاید څخه مالیه،ټیکس منفی شی نوپاتی عاید دشخص دتصرف وړعاید په نامه یادیږی.

DI=PI- TAXES

### *Per capital income (PCI) :7*

سړی سرعاید: دا دیوملک دخلکودفی کس دعایدڅخه عبارت دی چی په نفوسوباندی دملی عاید دویشلوپه نتیجه کی سړی سرعاید لاسته راځی.

$$OITAN \quad EMOCNI \quad \frac{}{noitalupoP}$$ ***:Example***

## ***Keynes Equation***

Y=C+I+G+ (X-M) NET EXPORT

1: NX=X-M=X¿M Surplus balance of trade

2: NX=X-M=X=M Equal balance of trade

3: NX=X-M=X¿Deficit balance of trade

## ***Difficulties in the measurement of National income***

(c) ketabton.com: The Digital Library

***Non-availability of statistical material :1***

دملی عاید په اندازه کیدوکی یومشکل دادی چی دمعلوماتوسمه اندازه نه اخیستل کیږی پدی معنی چی دیوشی په هکله صحیح معلومات موجود نه اوسی لکه استادان،دوه وخته کار.

***The danger of double (multiple) counting :2***

دملی عاید په اندازه کیدوکی بل مشکل دادی چی چی یوتولید په ملی عاید کی دوه ځلی یا څوځلی په ملی عاید کی جمع شی لکه غنم.

Non-marketed services :3

هغه شیان اوخدمات کوم چی بازارته یونه وړل شی اودغه شیان دشخصی استعمالولولپاره وی دا باید ملی عاید کی جمع کړی شی اوکه چیرته جمع نه کړی شی داهم دملی عاید په نقصان دی.

Difficulties to judge or to assess depreciation allowance :4

دملی عاید په اندازه کولوکی یوبل مشکل دادی کله چی استهلاک دوخت په تیریدوسره په شیانوکی راغلی وی هغه باید په ملی عاید کی وشمیرل شی اوکه چیرته ونه شمیرل شی نوداهم په ملی عاید کی یومشکل دی.

8

Transfer earning :5

دملی عایدپه اندازه کولوکی یوبل مشکل داهم دی چی کومی پیسی چی دخدماتو وړاندی کولوڅخه بغیر صورت نیسی نو دغه پیسی باید ملی عاید کی وشمیرل شی اوکه چیرته ونه شمیرل شی نودمشکلاتوڅخه دی لکه زکات، تحفه.

Self-consumed production :6

لکه ځینی خلک دهغوشیانواوخدماتوتولید پخپله کوی اوبیایی خپله استعمالوی نودا باید په ملی عایدکی استعمال کړی اوکه چیرته حساب نه کړی شی نودایومشکل دی، دمثال په ډول په کورونوکی داشپزخانی خدمات منځته راځی.

7: Price level changes

دملی عایدپه اندازه کولوکی بل مشکل دادی چی دیوکال په دوران کی دشیانواوخدماتوپه قیمتونوکی کوم تغیرراځی هغه باید جمع کړی شی اوکچیری جمع نه کړی شی دایومشکل دی په ملی عاید کی.

## ***National income determination***

### Consumption

The part of income spent on consumer goods or services for getting direct satisfaction

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصرف اوعاید دهغې برخې څخه عبارت دی چې مصرفیږی په مصرفی اجناسوباندی دتسکین دلاسته راوړلوپه موخه باندی.

## Types of consumption

### *Autonomous consumption :1*

هغه مصرف ته وایی چې دعوایدو داندازی پوری اړه نه لری پدی معنی که عواید زیات شی یا کم شی یا صفرشی نوپدی صورت هم مصرفیږی.

### *Induced consumption :2*

تابع مصرف: دهغې مصرف څخه عبارت چې دعوایدو داندازی پوری اړه لری اوکه عاید زیات شی مصرف هم زیاتیږی اوکه عاید کم شی مصرف هم کمیږی پدی معنی چې دعاید اومصرف ترمنځ مثبته رابطه ده په لاندی فرمول کی.

C=a+by    S=-a+ (1-b) y
C= total consumption
A= autonomous
B= slope
Y= induced consumption
C=2000+ 0.75 (10000) = 7500

## Investment


عبارت دهغه سرمایه ګزارۍ څخه دی چې دیوه کمپنۍ خلک یی دخپلی سرمایی شتمنۍ اودعوایدو زیاتیدولپاره کوی.

## Function of investment

عموما ***Investment function*** مونږته رابطه یا علاقه ښایی د سود دفیصدی سره پدی معنی چې دسرمایه ګزارۍ او ***Interest rate*** ترمنځ منفی تعلق دی چې په لاندی فرمول کی ښودل کیږی.

Slope

$I=I_0-Bi$        induced investment



Total investment: Autonomous investment

سرمایه ګزاری په دوه ډوله ده.

### *Autonomous investment :1*

عبارت دهغه سرمایه ګزارۍ څخه دی چې په یوتوله کی په ثابت شکل اوسی اود سود فیصدۍ پوری اړه نه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library

***Induced investment :2***

تابع سرمایه ګزارۍ: عبارت دهغه سرمایه ګزارۍ څخه دی چې د ***Interest rate*** پورې اړه لرې چې دسرمایه ګزارۍ او د سود فیصدۍ ترمنځ منفی رابطه لرې یعنی که چیرته ***Interest rate*** زیاتیږی نوسرمایه ګزارۍ به کمیږی اوکه چیرته ***Interest rate*** کمیږی نوسرمایه ګزارۍ به زیاتیږی.

## Aggregate demand

مجموعی تقاضا: ټول هغه شیان چې په یوملک کی مصرفیږی ددی شیانو اوخدماتو مجموعی ته تقاضاوایی.

## Aggregate supply

مجموعی عرضه: ټول هغه شیان یاخدمات چې په یوملک کی تولیدیږی ددی مجموعی ته مجموعی عرضه وایی.

نوټ: همدارنګه ویلی شوچی په قلی اقتصاد کی توازن هغه وخت کی راځی چې مجموعی تقاضا مساوی وی دمجموعی عرضی سره په لاندې فرمول کی ښودلی شو.

Y=C+I+G+ (X-M)      Aggregate demand →

Aggregate supply

## Theory of money

### Barter system

.That is a system in which goods are exchanged for goods

دتبادلی سیستم: داهغه سیستم دی په کوم کی چې راکړه ورکړه بغیرد پیسوڅخه صورت نیسی پدی معنی چې پدی سیستم کی دشیانوتبادله په مستقیم ډول دنورو شیانوسره کیدله، کیږی. مخکی له دی چې انسان پیسه وپیژنی اومنځته راشی دژوند مرحله په مختلفوپړاوونوباندی تیره شوی ده.

۱: دشیانوتبادله په مستقیم ډول دنوروشیانوسره.

۲: تبادله دشیانوپه یومعین تولید پواسطه په یومشترکه واحد ځای نیولی وه دمتبادلوتوکو، غنم، خرما، همدارنګه حیوانات.

۳: تبادله دشیانو درجن قیمتی معدنیاتوپواسطه چې دیومشترکه واحد پرځای ورڅخه استفاده کیده دمثال په ډول سره زر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴: بالاخره استفاده کول دپیسوخځه ترځودیومشترکه واحد پرځای ورځخه استفاده کیږی اود اعتبار وړګرځیدلی دانسانانوپه منځ کی.

## ?What are difficulties of barter system

**1: Lack of double coincidence of wants**

ددی سیستم مشکل داوه چی کوم ځیزونه به تاسره موجود وه اوبل ځیزته به دی ضرورت پیداشو نویدی وخت کی به تا داسی شخص پیدا کاوه چی ستا دضرورت ځیز دهغی سره موجود وی او دهغی دضرورت ځیز له تاسره موجود وی چی دا یومشکل کار وه اووخت په کی هم ضایع کیده.دتوافق نشتوالی دخواهشاتو له نظره په منځ دتبادله کوونکی.

**2: Difficulties of common measuring value**

مشکل داندازه ګیرئ چی یومشترکه واحد موجود نه وه: ددی سیستم یوبل مشکل داهم وه چی داندازه ګیرئ یوعمومی واحد موجود نه وه مختلفوخلکوبه په مختلفوپیمانوسره شیان اندازه کول.

**3: Lack of indivisibility**

مشکل دبعضو شیانوپه وړو وړو برخوباندی ویشل: ددی سیستم یوبل مشکل داوه چی شیان به په وړو وړو برخوویشل کیده ترځوتقسیم کیدلی ځینی شیان کچیرته تقیسموی کیدای شی له منځه ولاړشی او یا بعضی شیان نه تقسیمیږی.

**4: Difficulties in storing values**

مشکل دشیانوپه ذخیره کولوکی: ددی سیستم بل مشکل داوه چی شیان اوخدمات د اوږدی مودی لپاره نه شو ذخیره کیدای ځکه چی دخرابیدو چانس یی ډیر وه.

**5: Difficulties in borrowing and lending**

## History of Money

دپیسوتاریخچه: په لاندی ډول ورته اشاره کوو.

۱: اوله مرحله د ۹۰۰۰ کاله قبل المیلاد د **Barter system** موجود و او ورسره خلک هم په ذراعت کی مصروف و.

۲: بعضی تاریخ پوهان وایی چی تقریباَ ۳۰۰۰ کاله مخکی دمیلاد ځخه دشیانوتبادله په معدنیاتواو بعضی ذراعتی دانوباندی کیدله لکه غنم چی یومشترکه واحد دخلکوپه منځ کی دتبادلی لپاره ګرځیدلی و استفاده کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳: همدارنګه بعضی تاریخ پوهان اشاره کوی چی ۶۶۰ قبل المیلاد دیونان پاچاهانودمعدنی سیکوڅخه استفاده کړیده.

۴: همدارنګه بعضی تاریخدانان دانقل کوی چی پنځه پیړئ قبل المیلاد دفارس پاچاهانود سره زرو دسیکوڅخه استفاده کړیده چی وایی چی ددی تاریخ څخه دپیسو تاریخ شروع او ورځ په ورځ دتوجه وړ او پیشرفت پکی شوی دی.

۵: همدارنګه په اسیاکی دپنځمی پیړئ په شاو خواکی قبل المیلاد پخوانی عراقیان (بابیلیان، عاشوریان) دسرو زرو او سپین زرو دپیسو څخه استفاده کړیده.

۶: همدارنګه دبعثت په وخت کی په حجاز کی سعودی عربستان دسرو زرو او سپین زرو دپیسوڅخه استفاده شویده چی حتی د خلفای راشیدین په وخت کی ددینارڅخه چی دسرو زرو څخه جوړشوی و چی نثبت یی روم ته کیده استفاده کوله اوهمدارنګه درهم هم چی دسپین زرو څخه جوړشوی و چی نثبت یی ثاثانیانوته کیږی استفاده کوله تاریخ وایی چی عبدالملک بن مروان چی اموی پاچاه و خپلی پیسی جوړی کړی چی داسلامی دینار اودرهم په نامه یادی کړی.

## Definition of Money

دپیسوتعریف: پیسی هرهغه څیزته ویل کیږی کوم چی داعتبار وړګرځیدلی وی دعاموخلکوپه منځ کی اودقبلیدوخاصیت یی غوره کړی وی داخیستونکی اوخرڅوونکی ترمنځ د راکړی او ورکړی په پروسه کی. هرهغه څیزچی لاندی دری وظایف ترسره کړی مونږ ورته پیسی وایو.

## Functions of Money

### Money is a medium of exchange :1

پیسه دشیانودتبادلی ښه وسیله ده: دپیسواوله وظیفه داده چی دتبادلی په پروسه کی داخیستونکی اوخرڅوونکی ترمنځ دوسیلی په شکل استعمالیږی.پیسه دتبادلی په پروسه کی زیات اقتصادی فعالیتونوته لاره هواروی ځکه چی پدی سره وخت کم مصرفیږی.

### Money is store of value :2

دشیانودارزښت دذخیره کولوښه وسیله ده: دپیسوبله وظیفه داده چی ددی په ذریعه مونږکولی شوچی دشیانواوخدماتوارزښت دزیات وخت لپاره ذخیره کړو دمثال په توګه کچیرته یوتولید،یوڅیزله ځان سره نشوساتلی نودهغی دارزښت په نمائندګئ پیسی له ځان سره ساتلی شودضرورت او دوخت مطابق استفاده کوو.

### Money is a unit of account :3

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسه دشیانودارزښت دانداز ه ګیرئ یومشترک واحددی: همدارنګه ویلی شوچی دپیسوبله وظیفــه داده چی ددی پــه وســیله مونږکــولی شــوچی دشیانوارزښـــت پــری معلــوم کړواودیومشترکه واحدپه شکل تری استفاده وکړو.

نوټ: ځرنګه چی مونږدوزن دانداز ه کولولپاره یومشترکه واحد لروچی کیلوګرام دی اوهمدارنګه دفاصلی دانداز ه کولومشترکه واحد متردی نوپه همدی اساس دشیانودارزښت دانداز ه کولومشترکه واحدپیسه ده.

## Types of money

### Commodity money :1

داد‌پیسواولنی اوابتدایی ډول دی اود راکړی ورکړی په پروسه کی استعمال شوی دی اوپه خپل ځان کی ارزښت لری اودپیسوپه شکل ورڅخه استفاده کیدله.لکه سره اوسپین زر.

### Currency :2

داهغه ډول پیسی دی کوم چی دمرکزی بانک لخواجوړیږی اود راکړی ورکړی په پروسه کی استعمالیږی اودعاموقبلیدلوخاصیت لری اوهمدارنګـه دهرمملکت بیلـه بیلـه کرنسـی وی.لکـه افغانئ،ډالر.کرنسی په دوه ډوله ده.

13

#### A: Metallic money

داهغه ډوله پیسی دی کوم چی دفلزڅخه جوړیږی لکه افغانئ پنځه ګون، دوه ګون.

#### B: Paper money

داهغه ډول کرنسی ده کوم چی دکاغذڅخه جوړیږی اودمرکزی بانک لخواڅخه جاری کیږی لکه سل ګونی لس ګون، قاغذی پیسی اوداسی نور.

### Deposit/credit money :3

داد‌پیسوهغه قسم ته ویل کیږی کوم چی دچیک په شکل استعمالیږی اونن صباپه مختلفوهیوادونوکی پدی راکړه ورکړه کیږی.

### Near money :4

داد‌پیسوهغه ډول دی کوم چی پیسی نه وی بلکی په لږوخت کی دپیسوشکل غوره کوی یعنی په نژدی وخت کی کولی شوچی هغه په نغدو بدل کړو لکه جاری حساب.

### Electronic money :5

(c) ketabton.com: The Digital Library

**برقی پیسی**:دادپیسوهغه ډول دی کوم چی داوسنئ تیکنالوجئ په پیشرفت په وسیله منځته راغلی اود **Electronic money** په نامه یادیږی.لکه **Master card, Visa card**, **credit card** اوداسی نور.

## ?What are the qualities of good money

### General acceptability :1

**دعاموقبلیدوخاصیت**: دښوپیسواول خاصیت دادی چی عام دقبلیدو وړ وی اویا هرکس ته دقبلیدو وړګرځیدلی وی اوکه څوک یی ردکړی دقانونی چلندسره به مخ شی.

### Portability :2

**په اسانئ سره دانتقال وړاوسی:** بل خاصیت یی دادی چی په اسانئ سره کولی شوچی دیو ځای څخه یی بل ځای ته انتقال کړواوکوم قانونی ممانعت ونلری.

### Durability :3

**دوامداره خاصیت لرونکی**: دیوښه پیسوبل خاصیت داهم کیدلی شی چی دجوړښت له نظره دوامداره اوسی اوهمدارنګه **Purchasing power** ژردلاسه ورنکړی.

### Divisibility :4

**په وړو وړوبرخوویشل په اسانئ سره بغیردکوم قضاوت څخه:** دښوپیسوبل خاصیت دادی چی بغیردارزښت دکمیدو څخه په وړو وړوبرخو تقسیم کولی شوبغیردکوم قضاوت څخه پخپل منځونوکی.

### Homogeneity :5

یوشان والی ولری: دښی پیسی بل خاصیت داهم کیدلی شی چی هره کرنسی بایددشکل له لحاظه، درنګ له لحاظه، دمعیارله لحاظه یوشان وی لکه یودسلوواحد دبل دسلوواحدسره فرق ونلری اویاهم دزوړاویانوی والی له لحاظه.

## The value of Money

دپیسودارزښت څخه مقصد دادی چی دپیسویوقلی واحدڅان په بدل کی څومره شیان اوخدمات اخیستلای شی پدی معنی چی دپیسوارزښت څخه مقصد **Purchasing power of money** داخیستلوتوان یا قابلیت ښاییی.یعنی دپیسودڅان په بدل کی څومره شیان اوخدمات اخیستلای شی همدارنګه ویلی شوچی دقیمتونواودپیسودارزښت ترمنځ منفی اړیکه ده.

Indirect relationship between money and price level

پدی معنی کچیرته قیمتونه زیاتیږی نودپیسوارزښت کمیږی اوکه چیرته قیمتونه کمیږی نودپیسوارزښت ورسره زیاتیږی دلاندی فرمول پواسطه یی ښایو.

The value of Money

- Purchasing power of Money
- Indirect relationship between price level and value of money

(c) ketabton.com: The Digital Library

V.M= $\frac{1}{P}$

V.M= Value of money

P= Price level

**Example**

P=5 V.M= $\frac{1}{P}=\frac{1}{5}=0.2$

P= 10 / V.M= $\frac{1}{P}=\frac{1}{10}=0.1$

په نارمل، عادی حالت کی که دیوپنسل قیمت لس افغانۍ وی اوزه له ځان سره لس ۱۰ افغانۍ ولرم نوکولاۍ شم چی یوپنسل واخلم چی یوپنسل اولس افغانۍ سره مساوی دی او همدارنګه برعکس کچیری یوپنسل په پنځه ۵ افغانۍ وی اوزه له ځان سره لس ۱۰ افغانۍ ولرم نوکولۍ شم چی دوه دانی پنسلونه واخلم.

## *The quantity theory of money*

دپیسودمقدارنظریه: د ***Fisher*** له نظره کچیری دپیسومقدارزیاتیږی نوقیمتونه په هماغه اندازه زیاتیږی چی دپیسودمقداراوقیمتونوترمنځ مثبته رابطه ده. پدی معنی کچیری دپیسومقدارزیاتیږی نوقیمتونه هم په هماغه اندازه ورسره زیاتیږی اوبرعکس صحیح ده.اوهمدارنګه دپیسومقدارچی زیاتیږی نودپیسوارزښت به کمیږی چی دپیسودمقداراودپیسودارزښت ترمنځ منفی رابطه ده چی په لاندی فرمول کی ښودل کیږی.

***Fisher formula***

$= \frac{M\ V}{T}$ / P.I= M.V

P= دقیمتونوسطحه

M= دپیسومقدار

V= دپیسودوران یا چلند دیولاس څخه بل لاس ته (انتقال په اوسط ډول)

T= دمعلوماتویا عملیی مقداردپیسوپه بدل کی

**Example in normal situation**

M=100 $\frac{}{05}$ =

$= \frac{M\ V}{T}$

V=10 P=20

$= \frac{001}{05}$

(c) ketabton.com: The Digital Library

T=50

?=P

**Wh**

دپورتنی مثالونودحل څخه دی نتیجی ته
رسیږو کچیرته دپیسومقدار(M) دوه چنده
زیات شی نوهمدارنګه قیمتونه (P) هم دوه
چنده زیاتیږی پداسی حال کی چی
دپیسودوران (V) اودمعاملاتومقدار (T) ثابت
دی.

M=2

$= \frac{M \cdot V}{T}$

V=10

T=50

5

?=P

**When decrease**

M=50

V=10

T=50

?=P

$= \frac{\quad}{5}$ =

16

$= \frac{M \cdot V}{T}$

P=10

5

## Factors that affect the value of money

هغه عوامل چې دپیسوپه ارزښت باندی تاثیرکوی په لاندی ډول ورته اشاره کوو.

### Balance of trade :1

NX= X-M⇒ $X > M$ ⇒Surplus balance of trade. Increase the value of local money

NX= X-M⟹ $X = M$ Equal balance of trade. Normal situation

NX= X-M⇒ $X < M$ ⇒ Deficit balance of trade. Decrease the value of local money.

### 2: Falling prices of foreign goods

کچیرته په یوملک کی دخارجی شیانوقیمتونه کمیږی نوپدی وخت کی زیات سرمایه ګذاران کوشش کوی چې دبهرڅخه شیان راوارد کړی دکوم په نتیجه کی چی تجارتی کسر( **Deficit** ) رامنځته کیږی چې پدی سره دافغانئ ارزښت ورسره کمیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Political condition :3

کچیرته دیوملک دننه سیاسی وضعه په خرابیدو اوسی نوددی په وجه مونږته خارجی سرمایه نه راځی اوبله داچه دخپل دولت سرمایه ګزاران خپله سرمایه دخارجی کرنسیوپه شکل بهرته انتقالوی چی په نتیجه کی ورسره دافغانئ ارزښت کمیږی.

## Terrorist attacks and war :4

کچیرته په یوملک تروررستی حالت اوسی یعنی جنګ، اوحالت هم په خرابیدو وی نودډی په وجه سرمایه دخارجی کرنسیوپه شکل بهرته انتقالیږی چی دافغانیوارزښت ورسره کمیږی.

## Budget deficit :5

کچیرته ددولت مصارف په نثبت دعوایدوزیات شی نوپدی وخت کی دولت دمصارفودپوره کولولپاره نوی پیسی چاپ کوی اویاهم په ځینواداروباندی مالیه زیاتوی چی پدی کاردقیمتونواوچتوالی سبب ګرځی اوپه نتیجه کی ورسره دپیسوارزښت کمیږی.

## Increase in taxes :6

دنوی ټیکسونودلږیدوسره یادموجوده ټیکسونودفیصدئ دزیاتوالی سره یعنی Cost دتولیداتومصارف زیاتیږی چی په نتیجه کی قیمتی رامنځته کیږی اودقیمت دزیاتوالی سره دپیسوپه ارز ښت کی کموالی راځی.

## Supply of money

دپیسوعرضه: دپیسوهغه مقدارته وایی چی په معلوم وخت کی چاپ کیږی همدرانګه دپیسودعرضی مجموعی حجم دپیسودچاپ کیدودمقدارپوری تړلی وی اودپیسوعرضه ددولت سیاست پوری تړلی ده. اوهمدارنګه ویلی شوچی دپیسوعرضه یودمهم مسؤلیتونودمرکزی بانک څخه شمیرل کیږی چی دخاصوپالیسیو،تګلارو پواسطه باندی چاپ کیږی.

## Demand of money

دپیسوتقاضا: پیسی دلاندی دریومهمومعاملاتولپاره غوښتل کیږی چه په لاندی ډول ورته اشاره کیږی.

### Transaction demand for money :1

دپیسوتقاضا دروزمره معاملاتولپاره: داپیسودهغه تقاضاڅخه عبارت دی په کوم کی چی دروزمره مصارفولپاره پیسی دخپل ځان سره ساتو، برابره خبره ده که انفرادی شکل وی یادشرکتونوپه سطحه داډول تقاضا دشخص دعایدپوری اړه لری اوددوی ترمنځ یومثبته رابطه ښودل شوی ده.

### Precautionary demand for money :2

دمړی اوژوندی لپاره دپیسوتقاضا (ایمرجنسی، احتیاطی) : دپیسودهغی تقاضاڅخه عبارت دی په کوم کی چی مونږ دغم ښادئ اومړی اوژوندی یعنی دایمرجنسی حالاتولپاره پیسی له ځان سره ساتو.داډول تقاضادپیسودژونددحالاتوپوری تعلق لری کچیرته راتلونکی اقتصادی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وضعه ثابته اویقینی نه بریښیږی نودارنګه تقاضادپیسوزیاتیږی نوپه لنډ ډول ویلی شوچی دارنګه تقاضادپیسوداقتصادی حالاتو،امیدونو، اوناامیدونواودقرض دلاسته راوړلوپوری اړه لری.

## Speculative demand for money :3

دکاروبارلپاره دپیسوتقاضا: دادپیسودهغی تقاضاڅخه عبارت دی چی په کوم کی مونږدګټی، کاروباردلاسته راوړلولپاره پیسی له ځان سره ساتوعموما داډول تقاضادپیسودسوددفیصدی **Interest rate** پوری تړلی ده.کچیرته دسود اندازه زیاته شی نودارنګه تقاضادپیسوکمیږی پدی معنی چی دسود اودارنګه تقاضادپیسومنفی رابطه ده.

## Inflation

کله چی یوملک په (اوسط ډول) داکثره شیانواوخدماتوقیمتونه په مسلسل ډول زیات وخت لپاره زیاتیږی نودی حالت ته **Inflation** وایی. په پورتنی تعریف کی بایدلاندینی نقطی په نظرکی ونیول شی داکثره شیانواوخدماتواوچتوالی، دوهم په پرلپسی، مسلسل ډول.دریم همدارنګه دقیمتونواوچتوالی دزیات وخت لپاره.



## Types of inflation (also the reasons of inflation

### Demand pull inflation :1

کله چی په بازارکی مجموعی تقاضا زیاته وی دمجموعی عرضی څخه په اجناسواوخدماتوباندی په نتیجه کی زیاتوالی دتقاضا سبب دقیمتونود اوچتوالی ګرځی پدی معنی چی دتقاضا دزیاتیدوله وجی کومه قیمتی چی رامنځته کیږی دی ته **demand pull inflation** وایی.اوتقاضا کیدای شی دلاندی اسبابوپه وجه:

دپیسومقدارپه وجه بانکی په مقابل دتولیداتوکی ← دپیسوارزښت کمیږی ← **Inflation**

دخلکواعتمادکم شی په پیسوباندی ← خلک پیسه دلاسه ورکوی ← دپیسوارزښت کمیږی

**Inflation**

### Cost push inflation :2

کله چی دتولید دعواملومصارف یاقیمتونه زیات شی نوعمومی قیمتونه هم زیاتیږی پدی معنی کله چی دتولیدپه عواملوباندی تقاضازیاته شی په نثبت دعرضی باندی اوهمدارنګه دخاموموادو قیمتونه اوچت شی نودی حالت ته **Cost push inflation** وایی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## Imported inflation :3

ځرنګه چی وروسته پاتی دولتونه زیات اعتمادپه اقتصادی ژوندکی په وارداتوباندی لری او اکثره تولیدات دنوروخارجی دولتونوځخه راواردوی نوکله چی په نورو دولتونوکی انفلاسیون موجود وی نود وارداتوپه وجه دی ته هم **Inflation** انتقالیږی. مثلا دپاکستان څخه تولیدات راواردول، کچیرته په پاکستان کی انفلیشن موجود وی نود وارداتوپه وجه افغانستان ته هم انتقالیږی.

## Sectorial inflation :4


دیوخاص تولیدپه وجه: دا انفلاسیون هغه ډول دی چی په اقتصادکی دیوڅیزقیمت اوچت شی اودهغی پواسطه دنورولوشیانوقیمتونه اوچت شی کله چی نوموړی څیزپوری دنوروشیانوتولیدات په مستقیم ډول اوپه غیری مستقیم ډول تړلی اوسی. دمثال په توګه کچیرته دتیلوقیمت اوچت شی نوددی په وجه په هرڅیزکی اوچتوالی راځی.

### یاداشت، ملاحظه

همدارنګه ویلی شوچی د انفلاسیون نورمختلف ډولونوته اشاره کیږی دمثال په توګه دجنګ په وخت کی دڅیکس، مالیی دزیاتوالی په وجه **Inflation** اوهمدارنګه دسیاسی تحولاتوپه وجه انفلاسیون **Inflation** یاهمدارنګه دجغرافیایی حالاتواومشکلاتوپه وجه **Inflation** دمثال په توګه زلزله، سیلاب اوداسی نوروجوهات چی په نتیجه کی دتولیداتودکموالی چی بالاخره قیمتونه ورسره اوچتیږی او انفلاسیون ته لاره هواریږی.

19

## Formula of inflation




Wasiqullah mobasser presents it

## Effect of inflation

دانفلاسیون یا **Inflation** تاثیرات په ټولنه باندی:

ثابت عاید والا(کارمند)ته ضیان رسوی.

۱: **دانفلاسیون تاثیرات په عاید باندی** : غیری ثابت عاید والا(تاجران) پواندازه ګټه ترلاسه کوی.

سپما ورسره کمیږی.

۲: **دانفلاسیون تاثیرات په قرض باندی**: قرض اخیستونکی لپاره ګټور تمامیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرض ورکوونکی لپاره په ضررتمامیږی

**۳: د انفلاسیون تاثیرات په صادارتو او وارداتوباندی:** صادرات ورسره کمیږی ځکه چی قیمتونه ورسره اوچتیږی په مقابل دوارداتوکی۔ او واردات ورسره زیاتیږی ځکه د وارداتوقیمتونه ارزانه تمامیږی په نثبت دصادارتو۔

## ***Deflation***

دقیمتونوکموالی: **Deflation** هغه وخت رامنځته کیږی کله چی دپیسومقدارپه ملی اقتصادکی په نثبت دشیانواوخدماتو دعرضی په مقابل کی کم شی په نتیجه کی داقتصادپه ژوندکی دپیسوخالیګاه احساسیږی اوباالاخره نرخونه ورسره ټيټيږی.

***?How to control inflation***

ویلی شوچی دانفلاسیون دکنترول لپاره دولت دمختلفوتګ لاروڅخه استفاده کوی ترڅوپوری نوموړی اقتصادی مرض کنترول اومخنیوی یی وکړی نوپدی اساس باندی دولت ددوو عمده تګ لارو څخه استفاده کوی چه په لاندی ډول ورته اشاره کوو.

How to control inflation

1: Fiscal policy

*Tools of fiscal policy*

- Tax
- Government expenditure
- Both at the same time

2: Monetary policy

*tools of monetary policy*

- Banknote (discount rate)
- Open market (Operation policy)
- reserve rate

### *1: Fiscal policy*

مالی تګ لاره: داهغه تګ لاره ده چی ددولت دعوایدو (Tax) اومصارفوپوری اړه لری اوداپه هغه وخت کی تطبیق کیږی چی مجموعی تقاضا اومجموعی عرضی ترمنځ مساوات نه اوسی اوخصوصا دانفلاسیون په حالت کی چی مجموعی تقاضا زیاته اوسی اوددی په وجه انفلاسیون راغلی وی.نودانفلاسیون دکنترول لپاره دولت مالیه زیاتوی یا روستی مصارف کموی اویا په عین وخت کی ددواړو وسایلو څخه استفاده کوی ترڅومجموعی تفاضا راکمه اوپه بازارکی توازن برقرارشی.

$Y = I + C + G + (X - M)$ → Aggregate demand

→ Aggregate supply

(c) ketabton.com: The Digital Library

$C=a+by$

$C=a+b$ کله چې دعوایدو څخه مالیه منفي شي نومصارف هم کمیږي.

## 2: Monetary policy

دپیسوتګ لاره: داتګ لاره دپیسودعرضي پوري اړه لري داطریقه هغه وخت عملي کووچې دپیسوپه وجه باندې انفلاسیون راغلي وي یعنې کله چې دپیسوعرضه زیاته وي نوپدې وخت کې مرکزي بانک دبازارڅخه پیسه ددرې وسایلو پواسطه باندې چې په پورتني چارټ کې ورته اشاره شوې راجمع کوي ترڅوپه بازارکې دپیسومقدارکنترول اوپه نتیجه کې دانفلاسیون مخه ونیسي. عموما داهغه تګ لاره ده چې دمرکزي بانک پواسطه جوړیږي ترڅودانفلاسیون یا **Deflation** په وخت کې ورڅخه استفاده وکړي اونوموړومشکلاتولپاره دحل لاره پیداکړي.

نوټ: ویلې شوچې دپورتني تګ لارو دانفلاسیون دحل لپاره وضاحت ورکړل شو خوهمدارنګه د **Deflation** لپاره پورتني تګ لارې برعکس عملي کیږي او *Deflation* دمشکل مخنیوی ورباندې کیږي.

## Increasing supply of goods and services :3

دانفلاسیون دکنترول لپاره بله طریقه داهم ده چې ترڅوپه ملک کې دشیانواوخدماتوتولیدزیات شي ځکه چې دشیانواوخدماتودعرضې په زیاتیدوسره دهغوی په قیمتونوکې کموالی راځي.

## Price control policy :4

بله طریقه دانفلاسیون دکنترولولپاره داهم ده چې دولت باید دقیمتونوپه کنترولوکې مداخلت وکړي یعنې په مارکیټ کې دهرڅیزقیمت ددولت لخوا ترپوحده پوري کنترول کړای شي.

## Economic planning :5

دانفلاسیون دکنترول کولولپاره بله طریقه داهم ده چې دولتونه باید ګټوراقتصادي پلانونه ولري ترڅودخپلوضرورتونودپوره کولولپاره مناسب پلانونه جوړکړي چې ددغه مناسبوپلانونوپواسطه دانفلاسیون کنترول وکړي.د **Inflation** دکنترول لپاره بله طریقه داهم ده چې هغه شیان چې دملک څخه دصادراتوپه شکل خارجیږي اوپه ملک کې دهغې کموالی راځي باید دولت دهغه شیانولپاره مالیه **Tax** زیات کړي اوهغه شیان چې ملک ته دوارداتوپه شکل راځي اوپه ملک کې ضرورت ورته زیات وي دولت باید دهغوشیانو ټیکس، مالیه کمه کړي اوهمدارنګه په ملک کې دبعضوشیانوکموالی اوسي نودولت باید دهغوی په واردولوکې کومک وکړي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**